آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۱/۰۲

د لیوال «مکتبی»
او
د دریا «صاحبزاده»

د ښاغلي غفور لیوال کوم شعر چې ښاغلي فرهاد دریا کمپوز کړی او په خپل سحرګر غږ یې ویلی او د «صاحبزاده» تر سر لیک لاندې یې خپلو مینه والو او اوریدونکو ته وړاندې کړی دی؛ اصلي سرلیک یې «مکتبی» دی چې د ۱۳۸۳ کال د دلوې په څلورمه (۱۳۸۳/۱۱/۰۴) نیټه تخلیق شوی دی.
دریا د لیوال د «مکتبی» صیقل شوو او وللو تورو ته د موسیقۍ په امپراتورۍ کې د خپل سحرګر غږ په څپو کې وزرونه ورکړي دي او د یوه خیالي شنه بڼ پر لوري یې الوزولي دي.
«صاحبزاده» چې اوس باید یو ممتاز هنري اثر وبلل شي، د هنر د دوو برخو، د دوو پیاوړو هنرمندانو غفور لیوال او فرهاد دریا د ذهن او هنري تجربو زیږنده دی. زه غواړم دلته په ډیر لنډون سره د دې دوو سترو تخلیقګرو په باب مالومات وړاندې کړم:

لومړی د غفور لیوال په باب څو لنډې جملې:

د لیوال د څو اړخیز شخصیت په باب باید څو مقالې نه، بلکې څو کتابونه ولیکل شي، خو دلته یې یوازې پر «مکتبی» باندې بحث دی، نو د لیوال د «مکتبی» سره په اړخ کې باید په لنډ ډول و وایم چې لیوال په تخلیق کې، د تورو او کلماتو په دنیا کې د تورو او کلماتو داسې سحرګر اوبدونکی دی چې، که «لام» د «بلورستان» په غرونو کې له سپینو بلورو نه د خپلې معشوقې «ایلینو» اندامونه جوړوي، نو لیوال د کلماتو له زرینو او مینه ناکو خښتو نه، په جادویي ډول د خپلې معشوقې اندامونه په عالي تخیل او تخییل سره جوړوي او د انځورونو په قابونو کې یې لوستوکو ته وړاندې کوي، چې ښې بیلګې یې، د نورو اشعارو او ټولګو تر څنګ، «هوسی» او «لام او ایلینو» ګڼلی شو.
ما همدا څو ورځې مخکې د یوې مقالې په ترڅ کې د لیوال د فنکارۍ په باب په لنډ ډول داسې ولیکل:
«که «لام» په بلورستان کې، د غرونو په ډبرو کې یوازې د «ایلینو» اندامونه وتراشل؛ نو لیوال بیا داسې نقاش دی چې د دواړو(لام او ایلینو) اندامونه یې د سحرګرو او نازکو تورو په وسیله داسې تلپاتې کړل چې بشریت به ور ته حیران وي.»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که د لیوال د تخلیق د فن په باب د هر چا خوله را وسپړل شي، یو مثبت څه اوري، د ده د تخلیق یوه غوټۍ به در ته را سپړي. دا څو توري د نعمان دوست له قلم نه تلپاتې شوي دي:

«... لیوال صیب شاعر دی. لیکوال دی. څیړونکی دی. نقاد دی، سیاستوال دی، د خپل فکر او لارې څښتن دی...
او هرې برخې ته چې یې لاس غځولی خپله وړتیا یې ثابته کړې ده.
دا خبره به هغوی را سره په یوه خوله تصدیق کاندي چې د ده آثار یې لوستي او یا یې د ده بحثونه اوریدلي دي.
دې ځوان ته خدای ج عجیبه حافظه ورکړې، د بیان د ارایې عظیم ځواک یې ورکړی. دا سړی زموږ له پاره، زموږ د وطن له پاره، زموږ د ژبې له پاره یوه لویه پانګه ده. دا پانګه دې تر ډیره له موږ سره وي.»

لیوال د خپل شعر په قوت کله داسې هم کړي دي چې تیر هیر اساطیر او کارنامې یې په داسې شعري انځورونو را ژوندۍ کړي دي چې ته وا بیرته یې بیا دویم ځلي را هستي کړي دي. ښې بیلګې یې «لام او ایلینو»، «ارشاک او اوشاس» بللی شو او د دې تر څنګ یې د اوسنۍ زماني یوه ستره کارنامه د «هوسۍ » په نامه له داسې انځورونو سره تخلیق کړې چې بیلګه یې نه لیدل کیږي.

او اوس هم د فرهاد دریا په باب زما څو نا ویل شوي توري:

زه فرهاد دریا له هغه وخته پیژنم چې دی د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځي محصل و. فرهاد دریا له زلمیتوبه په خپلو درسونو او هنري کارونو کې جدي اوسخت کوشه و. د ده سخت کوشي، جدیت او خوش طبعۍ ته هغه وخت زما پام شو چې د شپیتمې لسیزې د پیل په کلونو کې دی د ادبیاتو پوهنځي محصل شو، پرته له شکه چې دی یو ټوکي او خوش طبعه محصل و، خو له موسیقۍ او ادبیاتو سره یې ټوکي نه کولې، د مطالعې قوي بګروند یې درلود او هره ورځ لا هر ساعت یې د مطالعې په بې پایه بحر کې لاس پښې ښورول او خپله علمي پانګه یې لا شتمنه کوله. د فرهاد دریا د مطالعې بګروند او د پوهې کچه د ده له خبرو کولو او ځینو لیکنو نه ډیره ښه ښکاریږي.
له موسقۍ سره د فرهاد دریا د اړیکو په باب باید و وایم چې تر هغه ځایه چې دی ما لیدلی او اوریدلی دی، زه پوه شږی یم چې «سُر» او «لی» د ده د ذهن او رګونو کلیوال دي او دا په جُرأت سره ویلای شم چې فرهاد دریا له موسیقۍ سره د عبادت تر بریده مینه کوله او کوي یې.
د هماغه جدیت او مینې پر مبنا یې د «صاحبزاده» په جوړولو کې جدیت وښوده او دومره جدیت یې وښود چې درې یا څلور کاله وخت یې ور ته بیل کړ. له ټولو نه مهمه دا چې هر څه یې ور ته وطني او افغاني کړل، که ښایسته دي او که نا ښایسته، هر څه یې خپل دي د خپل چاپیریال او خپل وطن. د ده خپلو تورو ته پام وکړئ:

«از الف تا یای "صاحبزاده" وطنی است!
Support Pure Afghan Made Products
"صاحبزاده"، به عنوان یکی از وطنی ترین اثار من در چندین سال اخیر، بالاخره آماده ی پخش شده و قرار است تا ۲۲ اکتوبر از طریق شبکه های تلویزیونی افغانستان به نشر برسد. تمام مراحل تولید این ویدیو از فلمبرداری تا تهیه ی اشیای عتیقه از بازارها و سرای های دست دوم کابل، از آمادگی های محل فلمبرداری واقع در قلب شهر تا کارگردانی و تصویربرداری، از عرق ریزی های تیم فرهاد دریا منیجمنت تا تیم پرودکشن ما، از میوه های تازه و اشتها آور مارکیت میوه فروشی تا گل های هزار رنگِ معطر کوچه ی گلفروشی شهر نو، و خلاصه که از آوازخوان تا شاعر گرانمایه ی آن (جناب عبدالغفور لیوال) و از آهنگساز تا ترتیب موسیقی در این اثر، همه و همه و همه در دامن مهربان کابل آماده شده و از الف تا یای آن وطنی است!
کارگردان خیلی جوان ویدیوی "صاحبزاده"، عبدالوکیل امرخیل (AWAP)، کسی که به باور من یکی از استعداد های داغ و مطرح افغانستان در داخل افغانستان است، در این اثر ثابت کرده چیزهای را می بیند که همه نمی بینند. می دانم کارهای ما به هیچ صورت خالی از کمی و کاستی نیست؛ اما در عوض، افتخار دارم استعدادها، محصولات و تولیدات خالص افغانستان را در داخل کشور حمایت می کنم و به تمام هنرمندان گرامی دیگر نیز توصیه می کنم اگر چراغی دارند، در داخل افغانستان بیافروزند. ایمان دارم روزی این چراغك ها به كمك حوصله و حمایت شهروندان، آفتاب می شوند!»

فرهاد دریا د لیوال صاحب «مکتبۍ » نومي شعر ته ــ چې ده د «صاحبزاده» په نامه وړاندې کړی دی ــ د پښتو معاصر شعر معجزه ویلي دي. دا د فرهاد دریا خپل توري دي چې د یوې انتریو په ترڅ کې یې د «صاحب زاده؛ از ویرانی جنگ تا چراغان شدن خانه» تر سر لیک لاندې، له آزادۍ رادیو سره د «صاحبزاده» په باب ویلي دي:
«صاحبزاده یکي از معجزه های شعر معاصر پښتو افغانستان است، که محصول ذوق و قلم آقای لیوال است...»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د آزادۍ راديو د مالوماتو له مخې دې سندرې (صاحبزاده) د وړاندې کولو په لومړۍ ورځ، لس ميليونه ليدونکي در لودل.
د ليوال له انځورونو او نوښتونو ډکه شاعري خو په معاصره پښتو شاعرۍ کې پرته له شک نه خپل ځای او خپل ځانګړی سبک لري، خو دريا په خپل سحر ګر غږ او سحر ګرې موسيقۍ سره د ليوال د شعر(مکتبۍ) هر توري نه آسماني مرغان جوړ کړي دي او د عاطفې په وزرونو سره يې الوزولي دي.
د ليوال او دريا د شخصيتونو پر هر اړخ باندې ډير څه د ويلو شته، خو د اوس له پاره د يوې لنډې مقالې په چوکاټ کې، د «مکتبۍ» او «صاحبزاده» په اړوند، په همدې خبرو بسنه کوم. د دې کامياب هنري اثر د بريالیتوب مبارکي دواړو ته وايم او په پای کې دا هم د فرهاد دريا د سندرې لينک، او ور سره د غفور ليوال د شعر(مکتبۍ) بشپړ متن وړاندې کوم:

مکتبۍ

د بر کلي صايب زاده يم

يو مې آس يوه شړۍ

قصيده مې پخه کړې

ګرځومه کوزړۍ

ځوان مريد د څرخي پير يم

رنګ دې ورك شي کوډې نه کړم

کوډې باسم

بند بختونه خلا صومه

د مينو زړو ريبار يم

شکرانه مې يا مميز دي يا توتان دي يا مرۍ

څوك دسمال راته خامك کړي

څوك را جوړه کړي خولۍ

د بر کلي صايب زاده يم

يو مې آس يوه شړۍ

نجونې ګردې را نه تاو وي

تاويزونه را نه غواړي
ملا تل را ته په قار وي

سل کوپرونه را ته وايي

خو پروا يې ډيره نه کړم

خدايزده ولې

د کوز کلي په زلميو باندې ګران يم

ما ته راز د دوی مالوم دی

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

یو د خان په لور مین دی

بل لېدلي د ملا صایب لمسۍ

د بر کلي صایب زاده یم

یو مې آس یوه شړۍ

د شنډ توت ډډې ته ناست یم

شنډو ښځو ته تاویز کړم

ماشومان له ځېله خلاص شي

ور ته دم چې زه ممیز کړم

د برات د میاشتې سر دی

نن اوله پنجشنبه ده

یوه پیغله را ته ناسته

زښته ډېره ښایسته ده

وایي داسې تاویز راکړه

چې مې پلار لږ بسلمان شي

میرات مړی ولور کم کړي

خوږ جانان مې مساپر دی

په دوبۍ کې مزدوري کړي

❋❋❋

نیمه شپه چې شي رابره

په سندرو باندې سر شم

ټول ماران مې په هوده دي

غږوم ور ته شپېلۍ

د بر کلي صایب زاده یم

یو مې آس یوه شړۍ

ژرنده ګړی مې ښه یار دی

ډیرې شپې سره یو ځای یو

ظالم ښه مست ربابي دی

د ځوانۍ سندرې وایو

شپه چې ښه ډېره پخه شي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بیا نو بله کړو دوهی

د بر کلي صایب زاده یم

یو مې آس یوه شړی

ژرنده ګړی چې نن راغی

په خندا یې را ته و ویل:

صایب زاده کیسې ته غوږ شه

نن اوړه مې د خان یووړل

کور یې ډك له مېلمنو و

څوك له ښاره وو راغلي

په انګړ یې شور ماشور وو

یوه ښکلې مېلمنه وه

په ښایست وه ښاپیرۍ

کلیوالو غوندې نه وه

ښکارېدله **مکتبی**

شرمېدله پټ یې و ویل:

صایب زاده یار ته دې وایه

پیر خانې ته دې سلام دی

یو تا ویز خو را ته وکړه

چې جانان ته شم منظوره

شکرانه به پوره درکړم

خدای دې مکړه ادې بوره

مکتبی را ته دا و ویل

بیا یې را کړ دا کاغذ

ژرنده ګړي توبې وکړې

ویل یې ورانه زمانه شوه

مکتبی نه وه بلا وه

په خندا بېرته ستنه شوه

په کاغذ کې وو لیکلي:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«په سندرو یم مینه

د نغمو یم لیونی

په یو چا مې زړه بایللی

غږوي ښکلې شپیلۍ

یو تاویز ور باندې وکړه

چې ما گل کړي د پگړۍ

د برکلي صایب زاده دی

یو یې آس یوه شړۍ»

۱۳۸۳\۱۱ \۴
متحده ایالات- مریلند

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ